**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالخالق رشید
۲۰۲۲/۰۶/۰۳

# په اوسنیوحالاتوکې،

## د هند او افغانستان اړیکي ـ اهمیت، ستونزې او اړتیا




کیدای شي دیوشمیراوسنیوچاروالکو له پاره داخبره لږله زغم څخه لرې وي چې هندوستان باید په اوسنیوځانګړوشرایطوکې له افغانستان سره نږدې اړیکي ولري، خو باوردی چې دعیني فکتونواوحالاتوپه پام کې نیولوسره ددغواړیکوبیا ټینګښت دجګړې ځپلې افغانستان له پاره په هراړخیزه توګه په تیره بیا په اوسنیې سیاسي اوجیوپولیتک چاپیریال کې چې زموږهیواد له هرې خوا له بیلابیلو اقتصادي، سیاسي اوفرهنګي ګواښونوسره مخامخ دی یواړین اومثبت ګام بللای کیدای شي.
هندوستان په تیروشلوکالوکې په افغانستان کې ملیاردونه ډالردافغانستان په بیا جوړونه کې داسې چې ګټه یې په مستقیمه توګه دافغانستان خلکوته ورسیده خرڅ کړل چې اوس هم دغه دښې ودې اوترقۍ پرلورروان آسیایي لوی هیواد تیاردی د افغانستان له خلکو سره خپلومرستو ته دوام ورکړي.
په دغه ترڅ کې ترهرڅه دمخه غواړم په دوولاندې برخوکې دیولړهندي مرستولنډه یادونه وکړم:
**لومړی ـ دافغانستان په بیا رغاونه کې** : هند په دغه برخه له افغانستان سره دیوې عصرې ادارې په جوړولو کې دپاملرنې وړونډه واخیسته، پریوشمیروړو پروژو برسیره یې دافغانستان له پاره دهیواد په هره برخه کې لویې اوملي پروژې لکه داوبواوبربښنایی خدمتونوتمویل کړې چې په هغوکې یوه لویه پروژه دهیواد دمرکزتړاوله شمالي ګاونډیوهیوادو سره و. دوی کابل اویوشمیرنورولایتونه دبربښنایی کربښې په وسیله هم سره وتړل .همداسې د افغانستان دپارلمان ودانۍ ،په هرات کې د سلما بند چې دهنداوافغانستان دخلکو د دوستۍ د ښې نمونې بڼه یې غوره کړه، د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ښاري بسونوپروژه چې په سلګونوبسونه يې افغانستان ته دعامه خدمتونو په موخه را واستول ، همداسې يې افغانستان ته د نوې ، عصري او تخنيکي اداري بيا جوړونه وه چې اهميت يې دهغوهيوادو ترمرستو چې هغوی وسله وال پوځونه دافغان وژنې په خاطررا استولي ول هم لوړ اوهم انساني و. موږله شکه پرته دغه ټولې مرستې دهنداوافغانستان دمرستوپه اوږده ليست کې نه هيردونکې بولو.
**دويم- په تعليمی اوعلمی برخوکي** : دهغوموثقومعلوماتوله مخې چې زه يې لرم هندوستان په تيرو دريو لسيزوکې دافغان ځوانانوپه علمي اومسلکي روزنه کې لويه اوجوړونکې برخه واخيسته ، په تيرودريو لسيزوکې په هندوستان کې **ترشپيتو زرو زياتوافغان** ځوانانو خپلې لوړزده کړې چې اکثريت يې په ليسانس اوماستري کچې کې وې بشپړې کړې، دغه ځوانان بيرته افغانستان ته راغلل اودلته يې دنوې ادارې په سمبالولوکې دتحصيل لرونکي ځواک په توګه جوړونکې برخه واخيسته اونوې اداره يې په ورانه او له منځه تللې ګنډواله اداره باندې ودروله ، په دغو کادرونو کې د طب، انجنيري ، کمپيوترسانيس ، کانو ، اقتصاد اوسياسي علومو په برخوکې په سلګونه افغان ځوانان وروزل شول،چې دغه لړۍ تراوسه هم روانه ده ان چې په دغو سختوحالاتوکې هم افغانستان دم ګړې په هندکې ترپنځلسوزرو زيات زده کونکي لري چې دوروستيوحوادثوله امله له سختو ستونزو سره مخامخ دي ددغو زده کونکوتر دوو زرو زيات چې يو، دوه ، درې کاله يې زده کړې کړې دي همداوس په افغانستان کې بند پاتې دي اودهند ويزې ته په انتظارناست دي.
پردغو دوو برخو برسيره په سلګونونورې برخې لکه دپوهنتونواوښونځيوجوړول دهغوپراختيا اوهمداسې دپراخو فرهنګي اړيکوله پاره په هندوستان کې د پاملرنې وړهڅې د سارک هيوادو د سازمان ترچترلاندې روانې وې چې هغوټولود نوي اوعصري افغانستان ځيره نړۍ ته ديوه متمدن هيواد په توګه ورښوده.
ځکه ديادولووړده چې اوس ترپخوازياته ددې اړتيا شته چې کابل بايد له ډيلي سره دخپلواړيکو دښه کيدوپه لټه کې شي ، هندوستان نن سبا په اسيا کې يوازنی هيواد دی چې په اقتصادي لحاظ په خپل ځان بسيا کيږي اوپه سيمه کې ديوه نوي اقتصادي، علمي اوپوځي ځواک په توګه سرراپورته کوي، چې کولای شي په اوسنيوسختوحالاتوکې پرته له دې چې افغانستان ته کوم ناوړه نيت لکه چې زموږنږدې حريص ګاونډيان يې لري لويې مرستې وکړي . افغانستان ته دهند دباندنيوچارود مرستيا ل وزير **جې پي سينګ** سفرچې د افغانستان په چاروکې يوباخبره اوله افغانستان سره خواخوږی د پيلومات دی د افغانستان او هندد دخلکوترخلکو اړيکو د بيا سمبالولو په برخه کې يو رغنده اود افغانستان دځوريدلي ولس په ګټه مهم اوړين ګام دی.په دې هيله چې زرترزره يې عملي پايله هم وګورو .
په هندکې د افغانستان سفارت يوه له هغوسياسي نمايندګيوڅخه ده چې په دغه برخه کې لويه برخه ترسره کولای شي، بايد چې په ملي او ديپلوماتيکه روحيه دافغانستان سياسي استازيتوب وکړي اودهند اوافغانستان د تاريخي اوفرهنګي اړيکود ښې سمبالتيا په برخه کې داوسنيوسياسي اود ډيپلوماتيکو اړتيا وو پربنا يوازې د افغانستان د خلکو له پاره، نه دځانګړو ډلواواشخاصوپه نامه اوقومانده دملي خدمتونو جوګه شي...
هندافغانستان ته او افغانستان هند ته اړتيا لري ، هندکولای شي په اوسنيوسختوشرايطوکې له افغانستان سره په اقتصادي، فرهنګی او تخنيکي برخوکې د پاملرنې وړمرستې وکړي .زموږ هيله داده چې چارواکي له هندسره خپل اړيکي پرته له هرډول باندنيو فشارونودافغانستان دخلکود اړينو طبي او تعليمی اړتياوو په خاطرعادي کړي، دم ګړۍ اويا زره افغانان چې زياتره يې هندوستان ته د زده کړواودرملنې په نيت را روان دی د هند ويزې ته انتظاروباسي، پنځلس زره محصلين، نږدې څلويښت زره نورافغانان په هند کې د اوسنيو افغاني سختو حوادثوپرګناه له سختواقتصادی اوسفري تنګسيا ووسره لاس اوګريوان دي، چې بايد غږ يې واوريدل شي **!؟**

درنښت

پروفيسور عبدالخالق رشيد دنهروپوهنتون استاد


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ